مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باش

شاه‌ولی ارین ۲۰۲۶/۰۱/۱۸

# نړۍ د انارشیزم او زورواکۍ په لور

## (دریمه برخه)

امریکا له ډېر پخوا راهیسي پر ونزویلا یو شمېر بندیزونه لګولي وو، چې د نړۍ د حقوقپوهان په نظر اقتصادي بندیزونه چې خلک لوږې ته رسوي، د جمعي سزا بڼه لري، د حکمتونو د بدلولو هڅه د ملي حاکمیت ښکاره نقض دي، امریکا ځان د نړیوال نظم ساتونکی بولي خو په عمل کې یې میلیونونه انسانان قرباني کړي دي.

د حریص ترامپ له پاره دغو ناروا بندیزونو هم کفایت ونه کړو، دا دي دا ځل یې د نړیوال ټولو قوانینو اوموزینو پرته د امریکې د متحده ایالتو پوځونو د لاتیني امریکا د یو مستقل هېواد ونزویلا خاورې ته ننوتل او د هغه هېواد د ولس په رایو منتخب ولسمشر نیکلاس مادورو او د هغه میرمن چې د تاوتریخوالي نښې یې پر مخ له ورایه ښکاریدې ونیول د نړیوالو ټولو اصولو خلاف یې ولسمشر لاس تړلی د محاکمې له پاره امریکا ته یوړل.
د شرم او تعجب خبره خو داده چې ترامپ په ډېره سپین سترګۍ په افتخار سره وایي:

«هغه څه چې امریکا وکړل، یاني د یو هېواد جمهور رئیس یې د هغه د مېرمن سره د نظامي حملې په نتیجه کې ونیول او امریکا ته یې وسپارل بل هیڅ هېواد داسې کار نه شي کولای.»

مګر د حیرانتیا خبره خوداده چې د امریکا دغه بربنډ تجاوز چې خپله د امریکا د فدرال قانون او نړیوالو موازین نه سرغړونه ده، ولې ملګري ملتونه او اروپایي شورا چوپ پاتې دي، چې په واقیعت کې دا د ملګروملتونو او اروپایي شورا بې وسې او بې کفایتي بربنډوي او داسې خپلسرۍ نړۍ د انارشیزم او زورواکۍ لورته هڅوي، چې دغه عمل به د نړیوال سیاست له پاره تاریخي او رسمي شرم وي.

ترمپ پر وینزویلا د سختو بندیزونو لګولو تر څنګ غوښتل د مادورو د حکومت د مخالف مشر(خوان ګوایدو) ملاتړ وکړو او د( ۲۰۱۹ ) کال د کودتا هڅې یې وکړې، د دغه هېواد د تیلو د کنټرول غوښتنه یې درلوده، مګر وینزویلا پرخپل سیاسي خپلواکۍ، د امریکا د بندیزونو او د بهرنیو لاسوهنو د پای غوښتنه چې د دوی مشروع حقونه وو ټینګار کاوه.

حقیقت خو دا دي، چې ونزویلا ۳۰۳ میلیارده بوشکې د نفتو زېرمې لري چې په ټوله نړۍ کې د تیلو د تولید کونکو هېوادو په لومړي قطار کې حسابیږي چې یو لامل همدا دی چې ترمپ یې لیونی کړی دی.

څرنګه چې امریکا ځان د نړیوال نظم ساتونکی بولي، خو په عمل کې یې میلیونونه انسانان د خپل استعماري سیاست قرباني کړی دي، لیدل کیږی چې په اوسنی نړۍ کې قانون یوازې پر کمزورو ولسونو او هېوادونو تطبیق کېږي.
د فارت چین د یوه فهرست له مخې د امریکا د استعماري سیاست په نتیجه کې د هغه شمېرهېوادو پرته چې د مقالې په دویمه برخه کې یې یادونه شوې، له (۱۹۵۸) کال نه تر (۱۹۹۸) کلونو پورې یې نور هم په دغو بیلا بیلو کلونو کې پر اندونیزیا،کوبا،کنګو،لاؤس، کمبودیا، ګرانادا، لبنان، ایران، پاناما، کویټ، سومالیا، بوسنیا او سودان حملې او بمونه غورزول دي، چې دغو هېوادو ته یې مادي، معنوي او بشري زیانونه اړولي دي.

پرمختللي نړۍ او په سرکې امریکا د ۱۹۴۵ میلادی کال دوهمي نړیوالي جګړې وروسته له سل ځلو نه زیات له خپلو پولو بهر پر نورو هېوادو وردانګلی د جګړو له لارو یې لسګونه خپلواک هېوادونه نسکور کړي او پر ځای یې خپل غلام، ګوډاګي حکمتونه او کسان ځای پر ځای کړي دي.البته دغه بدلونونه نه یوازې د جګړو له لارو بلکې د بیلا بیلو طریقو له لارو، رنګه انقلابونو، د استخباراتي شبکو د فعالیتونو، د پردې تر شاه د حکمتونو ضد تبلیغاتو، نیابتي جګړو، هسې په نوم اسلامي جهاد لکه په افغانستان کې او نورو طریقو او وسایلو له لارو یې د خپلو، سیاسي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

اقتصادي او ستراتيژيکو موخو د تر لاسه کولو په خاطر تر سره کړي او دا دی اوس هم خپلو استعماري سیاستونو ته دا اوس هم دوام ورکوي.

د مثال په توګه د وینزویلا پر جمهور رئیس مادورو باندې تور او اتهام، امریکا ته د دوي له خوا د مخدره موادو او کوکاینو استول دي، حال داچې امریکا پر دغه بهانه غواړی د مادورو حاکمیت نسکور او پر ځای یې خپل مزدور او ګوډاګی حکومت ځای پر ځای کړي تر څو د دغه هېواد د نفتو او مخدره توکو کنترول تر لاسه کړي.

د یادولو وړ ده چې مخدره مواد نن سبا د مودرن طبابت عمده او ګرانترین یا قیمترین عنصر او اړتیا جوړوی.مورفین او ډېری نور نشه ای توکي د نړۍ اوسمهال څه کم ۹ میلیاردو نفوسو ته په طبابت کي خورا زیات ارزښت لری چي د خپلو روغتیایی چارو د بساینې له پاره باید د نړی په کچه هغو هېوادونو کي چي د مخدره موادو کیفیت یي لوړ دی په قانوی توګه د ملل متحد په خاص ډول WHO د مسقیم کنټرول لاندې په منظمه توګه تولید او د نړۍ هېوادونو ته د تصفیې او صحي چینلو ته د ځایي حکومتونو د جدي کنټرول لاندې تقسیم بندی شی. له دې سره به د مخدره موادو د غیرقانوني تولید او قاچاق مخه ونیول شي، تر څو د مخدره موادو د قاچاق وړونکو مخه هم ونیول شی او د نشه ای توکو معتادین به کم او بلأخره به په بشپړه توګه پرمخدره موادو معتادیت ختم شي، نو ځکه ترمپ د ونزویلا دغه دوه سرشاره اقتصادي منابعو ته په کتو سره له نړیوالو ټولو پرنسیبونو او موازینو پرته پر دغه هېواد حمله وکړه او په راتلونکی کي به ولیدل شي چي دغه عمل پر نړیوال نظم کومي اغیزې رامنځته کولای شي.

پر ونزویلا د امریکا د بې رحمانه تېري په غبرګون کي په امریکا کي د دغه نا قانونه عمل پر ضد د خلکو او هم د نړۍ د یو شمېر هېوادونو د اعتراضونو تر څنګ، کامالا هریس، د امریکا د متحده ایالاتو پخوانۍ مرستیاله ولسمشره او د ولسمشرۍ په ټاکنو کي د ډونالډ ټرمپ سیالي، ویلي دي چي:

«د ونزوئلا په اړه د ټرمپ اقدامات امریکا نه خوندي، نه پیاوړې کوي او نه هم ارزانه تمامېږي او د نیکولاس مادورو نیول غیرقانوني دي.»

مېرمن هریس په ټولنیزه شبکه خپل ایکس پاڼه کي لیکلي چي:

«د وینزویلا د ولسمشرنیکولاس مادورو نیول او د ترمپ د ادارې له لوري امریکا ته د هغه د لیږد عمل یو غیر قانوني او غیر عاقلانه اقدام دی. نوموړې زیاته کړي چي د مادورو دیکتاتوري، بې رحمي او نامشروع واکمني دا حقیقت نه شي بدلولای.»

هغې لیکلي:

«موږ دا فلم مخکې هم لیدلی دی. هغه جګړه چي د رژیم د بدلولو یا د تیلو له پاره پیل کېږي او د ځواک په نوم پلورل کېږي، خو په پایله کي ګډوډۍ ته اوړي او امریکایي کورنۍ یې بیه پرې کوي. نو ځکه د امریکا خلک دا نه غواړي او له دروغو اوریدو ستړي شوي دي.»

همدا ډول پر ونزویلا د امریکا د بې رحمانه تېري په غبرګون کي د روسیې، چین، شمالي کوریا تر څنګ د اروپایي ټولنې ځینوغړو د امریکا دغه عمل د نړیوال نظم د پاشلو یو سترخطر ګڼلی دي. د فرانسې او جرمني مشرانو په سختو ټکو د ترامپ اوسنۍ پالیسي د نړیوال نظم د بې ثباتی او پاشلو لامل یاد کړي دي.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ